مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۱/۰۶

# د ژوندون تراژيدي

له ژړا نه ژوندون پيل شي

او ژړا باندې ختميږي

ته وا يوه لويه تراژيدي ده

ته وا نوی بيخی نوی

څوک د مړي کور ته راغلل

چې ژړا يې کړه څو چنده

انګولا يې کړه پريمانه

ته وا مالګه برابره شوه

په کوم نوي پرهر

د دردونو په وطن کې

څه عجيبه ځوانی خاوری

د خيريت پوښتنه يې نه شي

غم هماغسي غم پاتې

او لا داسي به زياتيږي

د پلرونو نښي واړه

له ايرو سره يوځای شي

هندوان هم نه يو؛ خو ولې؟

د زلمو د بدنونو پر ځای راوړو

د عربو له صحراو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د توريانو له دنياو

د يورپ سمندرو نه

او د دکن له مزدورو نه

خړې خاورې، ايرې شوي

سوځېدلي جسدونه

دې وطن کې فساد خپور شي

د ښاغلو ټغر ټول شي

هر فاسق زمونږ په مريو

خنجر کيږدي چې خاموش شو

او فناه شو له دې سترګې

دنياګۍ نه!

ته وا دا دنيا د دوی ده

او مونږ حق د ژوند لرو نه!

خو فلک وايي نادانو

دا ژوندون يوه تراژيدي ده

او ژړا د ژوند اصلي رنګ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ